WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۵ (از ۲۴ الی ۳۱ جوزا ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


- مقدمه ........ ۳

## ټاکنې؛ د واک د سوله‌ییز انتقال بریا او د احتمالي شخړو ویره

- ټاکنیز کمېسیونونه او د ټاکنو د تېرو پړاوونو تجربې ........ ۴
- د۱۳۹۳ کال ټاکنې ........ ۵
- د ټاکنو پایلې ........ ٦
- د واک د سوله‌ییز انتقال اړتیاوې ........ ۷
- د راتلونکې حکومت مشروعیت او د احتمالي شخړو مدیریت ........ ۷






# عملیات نیروهای پاکستانی در وزیرستان


- پیشینۀ طالبان پاکستانی ........................................................................ ۸
- شکست مذاکرات صلح بین طالبان پاکستانی و حکومت پاکستان ........................................ ۹
- جنگجویان خارجی در وزیرستان ................................................................ ۱۰
- اختلافات داخلی طالبان پاکستانی ............................................................... ۱۰
- نتیجۀ عملیات نظامی علیه طالبان پاکستانی ......................................................... ۱۱








## مقدمه

د غبرګولي په ۲۴مه نېټه په ټول افغانستان کې د دوو مخکښو نوماندانو ډاکټر عبدالله عبدالله او دوکتور اشرف غني احمدزي تر منځ د ولسمشرۍ د ټاکنو دویم پړاو ترسره شو او داسې ښکاري، چې په دغو ټاکنو کې دوکتور اشرف غني احمدزی له خپل سیال څخه مخکې دی.

خو د رایو له اټکلي شمېر سملاسي وروسته ډاکتر عبدالله عبدالله د ټاکنو پر پروسه نیوکې پیل کړې او بالاخره یې د پایلې له منلو انکار وکړ. له دغه جریان وروسته د احتمالي کشمکشونو او ناندریو د پیلېدو اندېښنې راوټوکېدې. اوس پوښتنه دا ده، چې بالاخره به د دغو ټاکنو او روانو ناندریو پایله څه وي او له دغو ټاکنو وروسته به د هېواد سیاسي وضعیت پر کوم لوري ولاړ شي؟

بل پلو د پاکستان حکومت له تېرو څو ورځو راهیسې په شمالي وزیرستان کې د پاکستاني طالبانو پر وړاندې پراخ عملیات پیل کړي او د سلګونو طالب جنګیالیو د وژلو خبر ورکړل شوی. دا عملیات داسې مهال پیل شوي، چې د افغانستان پر ختیزو سیمو حتی په افغانستان کې د ټاکنو په ورځ هم، د پاکستاني ځواکونو توغندیز بریدونه روان وو.

دا عملیات وروسته له هغه پیل شول، چې پاکستاني طالبانو د کراچۍ پر هوایي ډګر مرګوني بریدونه وکړل او تر هغو بریدونو وروسته په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر هم احضار شو، چې ګویا په پاکستان کې کېدونکي بریدونه پاکستاني طالبان د افغانستان له خاورې پلانوي. له بلې خوا په وزیرستان کې د عملیاتو له پیل سره سم زرګونه کورنۍ کډوال، د افغانستان ختیزو ولایتونو ته راکوچېدلي دي. د پاکستاني طالبانو مخینې ته په کتو سره، د دغو پراخو عملیاتو د پیلېدو عوامل څه دي؟ او بالاخره به یې پایله څه شي؟ همدا موضوعات د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ له خوا څېړل شوي دي:

## ټاکنې؛ د واک د سوله‌ییز انتقال بریا او د احتمالي شخړو ویره



افغانستان ته د نړیوالو ځواکونو له راتګ او د طالبانو د رژیم له راپرځېدلو کابو ۱۲ کاله وروسته، د ټاکنو له لارې واک له یوه ولسمشر څخه بل ولسمشر ته سپارل کېږي. د دغو ټاکنو لومړی پړاو هم، چې د روان لمریز کال د وري په ۱٦مه ترسره شو، له پراخو ناامنیو، درغلیو او نورو ستونزو سره مل و؛ خو د ټاکنو له دویم پړاو وروسته، چې د غبرګولي میاشتې په ۲۴مه نېټه ترسره شو، داسې برېښي چې د دې پروسې بریا به هم له ستونزو خالي نه وي.

په افغانستان کې تېرو څو پړاوونو ټاکنو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د اورېدو کمیسیون مخینې ته په پام سره، د وروستي پړاو ټاکنو څرګنوالی او شفافیت څرنګه و؟ په ټاکنو کې د ستونزو د زیاتوالي او د دې پروسې د کمزوري کېدو لاملونه څه دي؟ دغه راز د دغو ټاکنو پایله بالاخره په کوم لوري روانه ده؟

## ټاکنیز کمېسیونونه او د ټاکنو د تېرو پړاوونو تجربې

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ۲۰۰٦ زېږدي کال کې رامنځته شو، چې د اساسي قانون له مخې د هر ډول ټاکنو د اداري او څارنې مسؤولیت لري. دغه کمېسیون په ۲۰۰۹ زېږدي کال کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې ترسره کړې، چې له مخې یې حامد کرزی د دویم ځل لپاره د افغانستان د ولسمشر په توګه وټاکل شو او ورپسې یې په ۲۰۱۰ کال کې پارلماني ټاکنې ترسره کړې او وروستۍ ټاکنې یې هم د سږ کال (۱۳۹۳ لمریز) ولسمشریزې ټاکنې دي.

د دغه کمېسیون له رامنځته کېدو مخکې هم په ۲۰۰۴ کال کې د طالبانو د رژیم له راپرځېدو وروسته په لومړي ځل د ولسمشرۍ ټاکنې او په ۲۰۰۵ کال کې پارلماني ټاکنې وشوې، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر یا یوناما له خوا د ټاکنو د تنظیم له

ګډ دفتر سره په همغږۍ اداره شوې. هغه مهال هم په ټاکنو کې د درغلیو په څېر ځینې ستونزې موجودې وې؛ خو په تېرو دریو پړاوونو ټاکنو کې بیا ستونزې زیاتې شوې، چې تر ټولو جدي ستونزې يې ناامنی، لاسوهنې او درغلی دي.

پر ټاکنو هغه مهال د افغانانو باور کمزوری شو، چې په ۲۰۰۹ کال کې د ولسمشرۍ یوه نوماند ډاکتر عبدالله عبدالله د ټاکنو دویم پړاو ته له تګ څخه ډډه وکړه او کمیسیون يې په درغلیو تورن کړ. د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې دا ستونزه لاجدي شوه او په پارلماني ټاکنو کې د پراخو درغلیو د څېړنې لپاره ځانګړې محکمه جوړه شوه، چې په پایله کې يې د ولسي جرګې مشروعیت او حیثیت ته هم سخته ضربه ورسوله.

په اوسنیو (د ۱۳۹۳ لمریز کال) ټاکنو کې هم ورته ستونزې رامنځته شوې. که څه هم د ټاکنو په لومړي پړاو کې هم د پراخو درغلیو خبر ورکړل شوی و، خو په دویم پړاو ټاکنو کې بیا د ټاکنو خپلواک کمېسیون او نړیوالو ارګانونو په رسمي ډول وویل، چې د دوی د اټکل له مخې د لومړي پړاو ټاکنو په پرتله، په دویم پړاو کې د درغلیو کچه ټیټه ده؛ مګر بیا هم د ټاکنو یوه نوماند ډاکتر عبدالله عبدالله یو ځل بیا په کمیسیون د درغلیو تور پورې کړ او خپل سیال دوکتور اشرف غني احمدزی يې د ناسمو رایو په مټ په مخکې کېدو تورن کړ.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون تر څنګ د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون هم په ۲۰۰۹ کال کې دوباره رامنځته شو، چې د دوو بهرنیانو په ګډون يې پنځه غړي درلودل. د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې حکومت هڅه وکړه، چې په ټاکنو کې د بهرنیانو د لاسوهنې د مخنیوي په موخه، د ټاکنیزو شکایتونو د اوربدو کمېسیون کې د بهرنیانو رول راکم کړي، چې له همغو هڅو وروسته دا مهال هېڅ کوم بهرنی وګړی د دغه کمیسیون غړیتوب نه لري.

## د۱۳۹۳ کال ټاکنې

دا چې د سږنیو ټاکنو په لومړي پړاو کې د نوماندانو شمېر زیات او رایې يې ترمنځ ووېشل شوې، ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې او د دواړو مخکښو نوماندانو له خوا، له خپلې ډلې سره د بېلابېلو لورو د یوځای کولو له هڅو سره، په دویم پړاو کې د ټاکنو د قومي کېدو وېره هم زیاته شوه.

طبیعي خبره ده، چې دواړې ډلې د بریا په نیت د ټاکنو لپاره رامخکې شوې وې؛ خو داسې ښکارېده چې په حریصانه ډول له دواړو ډلو سره د یو ځای کېدونکي هر لوري غوښتنو ته په لبیک ویلو او د خپلې بریا د ممکنولو په هڅو سره، دواړو ډلو خپله بریا حتمي بللې وه او په هېواد کې د ډېموکراسۍ د بریا پر وړاندې شته ستونزو ته په کتو سره، داسې فرهنګ نه ترسترګو کېده،

چې له مخې یې بایلونکی لوری خپله ماتې ومني او واک په سوله ییز ډول د دغې پروسې له لارې، چې د درنو مالي او ځاني زیانونو په بیه ترسره شوې، انتقال شي.

اوس چې د ټاکنو د دویم پړاو د رایې اچونې د پروسې په پای ته رسېدو سره، یوه نوماند په ټاکنو اعتراض وکړ، په هېواد کې د کشمکشونو او د دغه پړاو د پایلو پر سر د اختلافونو د پراخېدو وېره نوره هم زیاته شوې، که څه هم د ولسمشر او حکومت د دغه راز کشمکشونو او شخړو د رامنځته کېدو احتمال په کلکه ردوي.

له بلې خوا په اوسني حکومت کې دننه او دغه راز بهرني بانفوذه لوري هم له دواړو نوماندانو څخه د یوه په واک ته رسېدو کې خپلې ګټېویني؛ ځکه نو هڅوی هم بې دریغه هلې ځلې کوي، چې د خپلې خوښې وړ نوماند واک ته ورسوي او په افغانستان کې د واک د سوله‌ییز لېږد کمې تجربې ته په کتو سره دا وېره ډېره ده چې یو ځل بیا د واک د انتقال سوله‌ییزوالی او مشروعیت له ستونزو سره مخ شي.

## د ټاکنو پایلې

د ټاکنو د رایې اچونې د ورځې په پای کې دواړو نوماندانو د ټاکنو له پروسې رضایت وښود او ژمنه یې وکړه، چې د اړوندو قانوني مراجعو له خوا د رایو شمېر، د شکایتونو څېړنې او د پایلو رسمي اعلان ته به منتظر پاتې کېږي. دواړه په ټاکنو کې د خلکو له پراخ ګډون څخه راضي وو او د شفافیت په اړه یې هم د تېر پړاو ټاکنو په پرتله ډېر ناراضه نه برېښېدل. پر ټاکنو ملي او نړیوالو ناظرینو او مشاهدینو هم د ټاکنو په شفافیت خوښي ښودله او د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په ګډون ډېری لورو د لومړي پړاو په پرتله دویم پړاو ټاکنې شفافې وبللې.

خو د ټاکنو یوه نوماند ډاکټر عبدالله عبدالله د رایو له اټکلي شمېر معلومېدو سره، سملاسي د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په یوه جګپوړي کارکوونکي د درغلی د هڅې تور پورې کړ او په پروسه یې نیوکې وکړې. ډاکټر عبدالله عبدالله له ټاکنیزو کمیسیونونو سره د خپلو اړیکو د ځنډولو خبر ورکړ او د خپلې دې پرېکړې لامل یې دا وباله، چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون یې غوښتنو ته مناسب ځواب نه دی ویلی. مګر د نوموړي د دغه اقدام په ځواب کې په ملي او نړیواله کچه شته غبرګونونو ته په کتو سره، داسې برېښي چې دا اعتراضونه به د ټاکنو پر پروسه جدي اغېز ونه لري.

## د واک د سوله‌ییز انتقال اړتیاوې

که څه هم داسې انګېرل کېږي، چې د ولسمشرۍ یو مخکښ نوماند چې په دویم پړاو ټاکنو کې یې کمې رایې ترلاسه کړې دي، د ټاکنو پایله ونه مني؛ خو دا چې په ملي او نړیواله کچه د ټاکنو دویم پړاو د لومړي پړاو په پرتله بریالی وبلل شو، داسې ښکاري چې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې فعال حضور ته په کتو سره به، د واک په انتقال کې تر ډېره جدي ستونزې رامنځته نه شي. دا حقیقت هم څرګند دی، چې ټاکنې به یو بریالی لري او سیال به یې له واک څخه د محرومېدو له امله، د افغانستان غوندې ټولنه کې تر خپله وسه اعتراض کوي.

له بلې خوا په ټاکنو کې درغلی هم په ټوله نړی کې معمولې دي، چې له همدې امله په افغانستان کې هم د ټاکنیزو شکایتونو د اورېدو کمیسیون فعالیت لري او کله چې کوم نوماند د همدغو کمیسیونونو تر ادارې لاندې ټاکنو کې ګډون کړی وي او بیا له ټاکنو وروسته د همدغو کمیسیونونو له خوا ترسره شوې ټاکنې نه مني، ښایي اعتراض به یې تر ډېره بې اغېزې وي. په ټاکنو کې درغلی، چې په ټوله نړی کې یې بېلګې شته دي، باید د دې لامل نه شي چې له واک څخه د محرومېدو پر مهال د ټولو افغانانو رایې او قرباني بې ځایه ولاړې شي. د ټاکنیزو شکایتونو د اورېدو د کمیسیون له خوا باید هر شکایت په شفاف ډول وڅېړل شي او دواړه نوماندان یې  پرېکړې ته درناوی وکړي؛ ځکه له دې پرته به واک ته د رسېدو لپاره نورې لارې، ښایي په اوسنیو شرایطو کې د پام وړ اغېز ونه لري.

## د راتلونکي حکومت مشروعیت او د احتمالي شخړو مدیریت

د حکومت د لومړی درجه شخص په ګډون د ټاکنو په ترسره کوونکو ادارو د عبدالله عبدالله له خوا د بې طرفی د نه مراعاتولو تور پورې شو او دې موضوع داسې اندېښنې هم وزیږولې، چې د احتمالي شخړو په صورت کې به د حکومت د مدیریت رول هم پیکه وي.

له بلې خوا د ټاکنو د کمېسیون او حتی د ټاکنو د یوه بل نوماند اشرف غني احمدزي له خوا په امنیتي ارګانونو د درغلی د هڅو تورونو هم دا اندېښنې زیاتې کړې دي، چې د حکومت او د شخړو د مدیریت د اصلي مراجعو رول به هم هغه مؤثریت ونه لري، چې د بې طرفی د نه مراعاتولو د تورونو د نشتوالي په صورت کې به یې درلودلی.

د ملګرو ملتونو ویاند هم د ډاکتر عبدالله عبدالله له خوا د رای شمېرنې د درولو غوښتنه د تأسف وړ بللې او د رای شمېرنې د پروسې د دوام غوښتنه یې کړې. دغه راز حکومت، د افغانستان نړیوال متحدین او نړیواله ټولنه ټول د ټاکنیزې پروسې بریالي پای ته رسېدو او د راتلونکي حکومت له مشروعیت سره مرستې ته چمتووالی ښیي؛ خو بیا هم احتمالي کشمکشونه او د راتلونکي حکومت مشروعیت هغه څه دي، چې سر له اوسه یې له خلکو، سیاسي خوځښتونو او نورو بېلابېلو لورو سره اندېښنې شته دي.

# عملیات نیروهای پاکستانی در وزیرستان



## پیشینهٔ طالبان پاکستانی

طالبان که در ابتداء برای تامین صلح و امنیت در افغانستان قیام کرده بودند، اکنون به درد سر بزرگی برای پاکستان نیز مبدل شده‌اند. طالبان پاکستانی تا سال ۲۰۰۱ بعنوان زیرمجموعهٔ طالبان افغان شناخته می‌شدند، بعد از سرنگونی امارت اسلامی در افغانستان، تحریک طالبان پاکستان را اساس نهادند. این تحریک برخلاف طالبان افغان به شاخه‌های متعدد تقسیم شده است؛ اما همه از ملا محمد عمر رهبر طالبان افغان، بعنوان امیر اطاعت می‌کنند.

در سال ۲۰۰۶ تحریک طالبان پاکستان رسماً اعلام موجودیت کرد و اعلام نمود که برای تحقق یک نظام اسلامی در پاکستان، جنگ را ادامه خواهد داد. نخستین رهبر این تحریک عبدالله محسود بود. عبدالله محسود در آغاز تحریک طالبان افغانستان، با این تحریک یکجا شد ویک پای خود را نیز در جنگ‌های افغانستان از دست داد.

او در سال ۲۰۰۱ در قندز در شمال افغانستان دستگیر گردید و به نیروهای امریکایی سپرده شد و مدت بیش از سه سال را در زندان گوانتانامو گذراند، تا اینکه در سال ۲۰۰۴ از گوانتانامو آزاد شد. طالبان افغان که نمی‌خواستند ظاهراً در جنگ طالبان پاکستانی با حکومت پاکستان شریک باشند، عبدالله محسود را بحیث رهبر تحریک طالبان پاکستان برگزیدند.

عبدالله محسود در سال ۲۰۰۷ در منطقهٔ ژوب در ایالت بلوچستان پاکستان، بعد از افشای مخفی‌گاهش و جلوگیری از دستگیر شدن، خود را منفجر ساخت و بعد از وی بیت الله محسود رهبری تحریک طالبان پاکستان (TTP) را به عهده گرفت.

بیت الله محسود عملیات زیادی را علیه اردوی پاکستان رهبری کرد که از آن جمله انفجارهای راولپندی در سپتامبر ۲۰۰۷ است. بیت الله محسود در قتل بینظیر بوتو نیز متهم بود. وی سرانجام در ماه اگست ۲۰۰۹ در حملهٔ طیارهٔ بی‌سرنشین امریکایی در وزیرستان جنوبی کشته شد.

بعد از وی حکیم الله محسود رهبری طالبان پاکستان را به عهده گرفت. این شخص در حملهٔ انتحاری و کشتن تعدادی از افراد سازمان سیای امریکا در ولایت خوست، توسط یک قراردادی اردنی سازمان سیا نقش داشت و سرانجام زمانی که قصد داشت مذاکرات صلح طالبان و حکومت پاکستان را آغاز نماید، در اول نوامبر ۲۰۱۳ در نتیجهٔ حملهٔ طیارهٔ بی‌سرنشین امریکایی در وزیرستان کشته شد.

## شکست مذاکرات صلح بین طالبان پاکستانی و حکومت پاکستان

نواز شریف صدراعظم پاکستان بارها گفته بود که صلح اولین نیاز پاکستان است و تا زمانی که صلح در کشور به میان نیاید، هیچ طرح اقتصادی در کشور به موفقیت نخواهد رسید. وقتی برای نخستین بار خبر آماده‌گی طالبان پاکستانی برای مذاکرات صلح با حکومت پاکستان نشر شد، امیدهای زیادی را برانگیخت؛ اما مشکل این روند این بود که احزاب مهم سیاسی پاکستان و حتی بعضی از گروه‌های مذهبی، شامل این مذکرات صلح با طالبان نبودند.

آغاز مذاکرات صلح با حکومت پاکستان به انتخاب رهبر جدید مربوط بود وتحریک طالبان پاکستان برای تعیین رهبر جدید به رایزنی پرداخت و سرانجام مولانا فضل الله رهبر طالبان در سوات که اکنون در مناطق مرزی میان افغانستان و پاکستان در منطقهٔ کنر بسر می‌برد، بحیث رهبر جدید طالبان پاکستان انتخاب شد. خان سید سجنا که به خالد محسود هم مشهور است، کاندیدای دیگر این مقام بود؛ اما به دلیل تمایل وی به صلح با حکومت پاکستان، اکثریت اعضای شورای مرکزی به قیادت مولانا فضل الله رای دادند.

این اولین باری بود که در مدت شش ونیم سال عمر تحریک طالبان پاکستان، شخصی به قیادت انتخاب شد که از قبایل محسود و وزیر نبود. از همان آغاز کار، بعضی‌ها به این باور بودند که شاید این انتخاب در آینده به مشکلات منجر گردد.

بعد از مدتی، آتش اختلاف میان سجنا و شهریار محسود که از مولوی فضل الله حمایت می‌کرد، در وزیرستان شمالی بالا گرفت که در ایجاد این اختلاف مقامات پاکستانی نقش عمده داشتند. آی اس آی خواهان تحکیم قدرت خان سید سجنا در وزیرستان شمالی است و نگران از آنست که وجود رهبری طالبان در خارج از پاکستان، به هندوستان فرصت ایجاد رابطه با طالبان را فراهم سازد. بخصوص که ملا فضل الله در گذشته و زمانی که در سوات مستقر بود، با خارجی‌ها رابطه داشت و حتی یک فرستندهٔ رادیویی موج اف ام نیز از آنان بدست آورده بود.

## جنگجویان خارجی در وزیرستان

در وزیرستان گذشته از جنگجویان محلی، تعداد زیادی از جنگجویان خارجی از آسیای میانه و قفقاز گرفته تا ایغورهای چین هم وجود دارد. این افراد بعد از سقوط طالبان درسال ۲۰۰۱ به این منطقه پناه آورده‌اند.

دلیل حضور این افراد در این منطقه، وجود رژیم‌های سرکوبگر در کشورهای خودشان است و این افراد در حقیقت از دست رژیم‌های مستبدی که بقای خود را درسرکوب و کشتار مخالفین می‌بینند فرار کرده‌اند. در چندین حملهٔ دقیقا پلان شده، از جمله حمله به پایگاه هوایی مهران و در این اواخر میدان هوایی کراچی، یا این گروه‌های خارجی مستقیماً و یا بصورت غیرمستقیم بعنوان برنامه‌ریز عملیات نقش داشتند. این گروه‌ها می‌دانند که اگر مذاکرات صلح میان طالبان پاکستانی و حکومت پاکستان به نتیجه برسد، امکان دارد تا آنها به نحوی وجه المصالحه قرار گیرند. به همین دلیل زمانیکه مذاکرات صلح آغاز می‌شود، این گروه‌ها با خشونت علیه اهداف نظامی و ملکی در پاکستان، جلو مذاکرات را می‌گیرند.

## اختلافات داخلی طالبان پاکستانی

به دنبال شکست مذاکرات صلح میان طالبان پاکستانی و دولت پاکستان، نیروهای نظامی پاکستان عملیاتی را در منطقهٔ وزیرستان شمالی آغاز کردند. هدف از این عملیات هرچند تامین امنیت در پاکستان خوانده شده، اما حقیقت اینست که سازمان استخبارات نظامی پاکستان می‌خواست رهبری جدیدی را به رهبری سجنا به میان آورد و سپس با همین گروه مذاکرات صلح را آغاز نماید. چون این اتفاق نیافتاد، ناچار به عملیات دست زدند.

سازمان استخبارات نظامی پاکستان هرگز نمی‌خواهد رهبری طالبان پاکستانی در خارج از این کشور مستقر باشد، اما اکنون به نظر می‌رسد که کنترول اوضاع از دست پاکستان خارج شده است؛ زیرا رهبری جدید طالبان پاکستانی یعنی مولانا فضل الله در داخل افغانستان و دور از دسترس پاکستان اقامت دارد و از همین جا هواداران خود را رهبری می‌کند.

ملا فضل الله طی یک دستور به هوادارانش، سجنا را از فرماندهی طالبان عزل کرد اما سجنا این دستور را نپذیرفت و خود دست به تعیین (امیر) در مناطق مختلف زد و در حقیقت علم بغاوت علیه مولانا فضل الله برافراشت.

تلاش‌های استخبارات نظامی پاکستان این بود که بار دیگر رهبری طالبان را به داخل منتقل سازد و به همین دلیل بصورت مخفیانه از سجنا حمایت کرد، اما رهبر دیگر طالبان در وزیرستان شمالی یعنی حافظ گل بهادر با دولت پاکستان اعلان جنگ داد. او از مردم تقاضا نمود که اگر قصد تخلیهٔ مناطق جنگی را دارند، بجای رفتن به سوی مناطقی در داخل پاکستان، به افغانستان پناه ببرند.

## نتیجۀ عملیات نظامی علیه طالبان پاکستانی

پاکستان در سال ۲۰۰۹ عملیات بزرگی را در وزیرستان تحت عنوان «راه نجات» به راه انداخت؛ اما علی الرغم خسارات مالی و تلفات جانی، به نتیجۀ دلخواه نرسید. عملیات کنونی که زیر نام «ضرب عزب» براه انداخته شده، از طریق حملات زمینی و هوایی ادامه دارد. «عزب نام یکی از شمشیرهای حضرت پیامبر صلی الله علیه وسلم بود».

اما همانگونه که نیروهای پاکستانی در عملیات ۲۰۰۹ تلفات سنگینی را متقبل شدند و نتوانستند طالبان را شکست دهند، این بار نیز به این هدف نخواهند رسید. هرچند مقامات پاکستانی در عملیات سال ۲۰۰۹ نیروهای امریکایی مستقر در افغانستان را متهم کردند که همزمان با عملیات راه نجات، آنها سرحد را آزاد گذاشتند تا طالبان به خاک افغانستان عقب نشینی نمایند؛ اما حقیقت اینست که نیروهای پاکستانی عملیات اخیر را طوری راه اندازی کردند که طالبان مستقر در وزیرستان شمالی از حمله آگاه بودند و آنها قبل از عملیات تدابیر لازم را اتخاذ نموده بودند.

عملیات نظامی با حملات هوایی آغاز شد و سپس آتش‌باری توپخانه مناطقی را هدف قرار داد. طالبان بدون تردید به جاهای مصئون عقب نشینی کرده‌اند و در انتظار حملات زمینی سربازان پیاده‌اند. وقتی حملات پیاده آغاز گردد، جنگل‌های این منطقه سنگرهای مطمئن برای مقابله با سربازان خواهد بود.

بنابراین با توجه به موقعیت طبیعی و سوق الجیشی منطقه، نمی‌توان انتظار داشت که از این عملیات نتیجۀ مطلوب یعنی سرکوب کامل طالبان بدست آید. اما در این اواخر امریکا مقادیر فراوانی از جنگ افزارهای نیروهای خود در افغانستان را، در اختیار نظامیان پاکستانی گذاشته است. فوج پاکستان باید به امریکایی‌ها نشان دهد که در برابر این کمک آنان، ارتش پاکستان علیه تروریزم دست به اقدامات جدی زده است.

اما جنگجویان طالب قبلا تدابیری سنجیده‌اند تا خود را از حملات هوایی ارتش پاکستان در امان نگهدارند و در انتظار فرصت مناسب باقی بمانند تا تلفات جانی بیشتر بر ارتش پاکستان وارد سازند.

تجربۀ گذشته نشان می‌دهد که در این جنگ‌ها نه طالبان بصورت کامل شکست می‌خورند و از بین می‌روند و نه هم ارتش پاکستان. شکست خوردۀ اصلی مردمان غیرنظامی اند که در این مناطق زنده‌گی می‌کنند و باید مصیبت‌های این جنگ را نیز همین مردم تحمل کنند. پایان